اسدالله پیام ـ ډنمارک

سپټامبر-۲۰۱۱

# له ترون سره یون اوترون

ډېر او بیا هم ډېر خوښ یم چه باالاخره تاسودوطن دملي ګوند اودوطن ګوند دغړو دسمبالښت دلنډ مهاله تشکیلاتو ګرانو ملګرو، دوطن ګوند دلسګونو زرو لالهانده غړو د اوږدې ناهیلی او بې باوری

د سوځونکي کړکېچ څخه د راوتلو سمه اوجوړونکې لار وموندله او پدې توګه مو هم دوطن ګوند د ژمنو غړو او هم دافغان کړېدلي ولس تاریخي انتظارته لمړنی مسؤلانه اومثبت ځواب ووایه.

ددې زړور او ستر لمړني ګام د اوچتولو په مناسبت تاسو دواړو دوطن ګوند منسوبو تشکلاتو ته د زړه دتل مبارکي او شادباشی ډالی کوم او په هوډمنه توګه ستاسو له دې تاریخي ترون سره خپل ترون اویون په ډاګه کوم.

زه په داسې حال کښې چه ددې ترون لاسلیک دشهید نجیب الله د شهادت پنځلسم تلین ته یوه ارزښتناکه ډالی بولم،بشپړ باور لرم چه تاسو به بې له ځنډه دوطن ګوند له نورو ژمنو منسوبو خورو ورو جوړښتونو اوځانګړیو غړو سره خپل زړه سوانده اومسؤلانه کارته په همداسې زړورتیا سره دوام ورکړی.همدغه د بري اوهمدغه دیون لاره ده.

زه هیله من یم چه نور تول دوطن کوند هغه متشکل اوغیرمتشکل غړي چه دوطن ګوند دبیاحضور په ضرورت اودهغه دبنسټیزو ستراتیژیکو سیاستونو په رښتینوالي باور لري له دغه بهیرسره د پلمو او ځان غولوني پرته یو ځای شي او پدې توګه خپل دین د وطن او وطن ګوند په وړاندي ادا کړي. تاسو ته په دې شریفانه ملي آړ کښ وروستی او کوټلې بریاوې غواړم